AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۱۰/۰۵

# زمـا قلم زمـا تعليم او زمـا ژونـد مباح دی




زما په وينـو دې بېلماځـه لـبـاسـونـه نشي
لړ يي په ورو را غورځوه خوړ دې بمونه نشي

زمـا قلم زمـا تعليم او زمـا ژونـد مباح دی
چېرته زما په زندی ستړي دي لاسونه نشي

خير دی چي چېرته و لښکر پته به زه درکوم
موره بې شمېره يو چي کم دي راکټونه نشي

ستا نـازولي پـيـلـوټـانـي زموږ کلک جسمونه
زموږ بمبار باندې يې ستړي اندامونه نشي

مريده پټي تري زموږ د وينو داري نه کړی
درنه ناراضه د پيرانو پاک روحونه نشي

موږ د ښېرو جواز هم نه لرو ډاډه دې ګرځي
چېرته خپه چي پرې باوره د چا زړونه نشي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ